# جریده میـــزان

د سترې محکمې کاري ځرګندويه خپرونه

د تأسيس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

شنبه ۴ وری ۱۴۰۳ هـ ش | ۱۳ رمضان المبارک ۱۴۴۵ هـ ق | ۲۳ مارچ ۲۰۲۴ م | مسلسله شمېره (۶۰)


**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې ايښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زياتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وي ، نو د نړۍ ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام ، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کيده.

تفسير کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

## د قضائيه قوې د محاکمو امنيتي او اجرائيوي چارو عمومي رياست اړوند نظامي زده کړو مرکز د لومړۍ دورې فارغينو لمانځغونډه ترسره شوه

د چهارشنبې ورځ (د ۱۴۴۵ هـ ق کال د شعبان المعظم مياشتې په ۲۴مه نېټه) د قضائيه قوې د محاکمو امنيتي او اجرائيوي چارو عمومي رياست د نظامي مسلکي زده کړو د مرکز د لومړۍ دورې څخه د (۱۲۰) مجاهدينو د فراغت په پار ياد رياست کې يوه شانداره غونډه ترسره شوه.

په دې غونډه کې چې د قضائيه قوې د محاکمو امنيتي او اجرائيوي چارو عمومي رياست کې جوړه شوې وه؛ د سترې محکمې، کورنيو چارو وزارت، ملي دفاع وزارت او نورو امارتي ادارو مسؤلينو، شيوخ کرامو، مجاهدينو او منسوبينو ګډون درلود.

په دې غونډه کې چې د قرآنکريم د مبارکو آياتونو په تلاوت پيل شوه د سترې محکمې او نورو امارتي ادارو محترمو مسؤلينو او شيوخ کرامو په بېلا بېلو اړوند موضوعات خبرې وکړې.

د سترې محکمې د مرکزي تميز اړوند جزا دېوان عمومي رئيس محترم مفتي عتيق الله (درويش) د نظامي مسلکي زده کړو مرکز د لومړۍ دورې فارغينو ته د مبارکۍ ترڅنګ د اسلام مبارک دين له نظره د نظامي مسلکي زده کړو پر ارزښت او اهميت تفصيلي خبرې وکړې.

محترم مفتي عتيق الله درويش وويل، د اسلام او اسلامي نظام د ساتنې لپاره نظامي مسلکي زده کړې، تمرينات او اعدادات زموږ په شريعت کې ثبوت لري.

نوموړي زياته کړه، قرآني تعليمات او د رسول الله صلی الله عليه وسلم ارشادات هم دا دي چې د دښمنانو پر وړاندې داسې عمل کول چې د اسلام دښمنانو ته پرې ضربه رسيږي عبادت دی؛ په دې اساس د نظامي مسلکي زده کړو حاصلولو پر مهال ستاسو ټول زحمات او ستړياوې عبادت شمېرل کيږي.

محترم مفتي درويش صاحب د نظامي مسلکي زده کړو د لومړۍ دورې فارغينو ته په خطاب کې زياته کړه، خپل مسؤليت د عبادت په نيت ترسره کوئ، د اسلامي نظام او خپل مسؤليت قدر وکړئ، له خدای تعالی څخه وېره ولرئ او تل د ښه مسؤليت ترسره کولو دعا کوئ، د اسلامي نظام داسې ساتنه او پالنه وکړئ لکه خپل د شخصي ملکيت.

دغه راز د فرمانونو او حکمونو د تعقيب او نظارت لوی رياست د بشري سرچينو رئيس محترم مفتي شيرولي حقاني غونډې ته د وينا پر مهال وويل، الحمدلله د الله تعالی شکر دی چې د مجاهدينو او افغان مجاهد ملت ۲۰ کلنې قربانۍ يې قبولې کړې او په نتيجه کې يې موږ دا دی له اسلامي نظام څخه برخمن شو.

نوموړي زياته کړه، زموږ موخه د الله تعالی پر ځمکه د الله تعالی د قانون جاري کول و/ دي، له ټولو مجاهدينو او د اسلامي امارت له مسؤلينو او منسوبينو مې غوښتنه ده چې په دغه نظام کې به اوس هم د جهاد په نيت خدمت کوي او تل به زړه کې له الله جل جلاله څخه خوف او وېره لري.

د کابل مرکزي زون د نظامي محکمې رئيس الحاج شيخ عبدالغفار رحماني صاحب غونډې ته په خپله عالمانه وينا کې وويل، مسلمانان بايد تل د کفارو مقابلې او د اسلامي خاورې دفاع ته تيار وي، د نظام د ساتنې تر څنګ د کفارو مقابلې او د دوی د دسيسو د شنډولو لپاره تيار او بيدار وي او تل پر الله تعالی توکل ولري، په دندو کې پر مادياتو تمرکز ونه کړي؛ بلکې خپلې دندې يوازې او يوازې د اسلامي نظام د بقاء، هيواد او ملت ته د خدمت او د الله تعالی د رضا لپاره ترسره کړي.

پر دې سربېره د ملي دفاع وزارت د تعليماتو معينيت د عقيدتي څانګې مسؤل محترم شيخ خدايداد (مهاجر) غونډې ته د جهاد د فضيلت په اړه خبرې وکړې وويل، که جهاد نه وای نو مسلمانان به له سختو مشکلاتو سره مخ وو، دا مساجد، مدرسې، د ديني او نورو مسلکي زده کړو مراکز به نه وای، کفار له اعداد او جهاد سخته وېره لري، ستاسو د دغه عمل په وسيله به د الله تعالی دښمنان له تاسو ډارېږي.

دغه راز د قضائيه قوې د محاکمو امنيتي او اجرائيوي چارو عمومي رئيس محترم مولوي محمد عوض (سعيد) غونډې ته له راغلو ټولو مېلمنو مننه وکړه چې په دې مراسمو کې يې ګډون کړی و.

غونډه د قضائيه قوې د محاکمو امنيتي او اجرائيوي چارو عمومي رياست د نظامي مسلکي زده کړو مرکز د لومړۍ دورې د فارغينو لخوا د ځينو مسلکي حرکاتو تر نمايش وروسته د دعا په ويلو پای ته ورسېده.

د يادونې وړ ده چې په دې دوره کې ۱۲۰ تنه مجاهدينو ته د اتو اونيو په موده کې د مجربو استادانو لخوا نظامي مسلکي روزنه ورکړل شوې وه او فارغينو ته تصديق پاڼې هم ورکړل شوې

## د سترې محکمې متحدالمآلونه

**د متحدالمآل ګڼه: ۳۸**

**نېټه: ۱۷ /۱۴۴۵/۸ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تميزونو، دېوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمة الله و برکاته

وبعد: د سترې محکمې د تدقيق او مطالعاتو عمومي رياست مکتوب نمبر (۱۲۰۴بر۶۶۱) رارسېدلی او په هغه کې يادونه شوې چې: د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رياست په متحدالمآل نمبر (۸) مؤرخ ۱۴۴۴/۱/۲۶هـ ق کې ليکل شوي: (... په فيصله کې به يواځې قاضي او رئيس امضاء کوي.) اوس پوښتنه دا ده: هغه وثايق چې د محاکمو له خوا اجرا کيږي په هغو کې د مفتي او محرر امضاء ضروري ده؟ که د فيصلې په شان د مذکور متحدالمآل په اساس يواځې د قاضي په امضاء کفايت کيږي؟

پورته ذکر شوې موضوع د سترې محکمې د عالي شورا مجلس مؤرخ ۱۳/رجب المرجب/۱۴۴۵هـ ق مصادف ۵/دلو/۱۴۰۲هـ ش ته وړاندې شوه په اړه يې د تصويب نمبر (۲۶) د دريمې پرېکړې په اساس عالي شورا داسې هدايت وکړ:

((هره وثيقه دې د ولايتونو په مرکزونو کې د وثايقو د امير، مفتي، محرر او د اړونده ولايت د استيناف محکمې د رئيس صاحب لخوا لاسليک شي او په ولسواليو کې دې وثايق د قاضي مفتي او محرر لخوا لاسليک شي د استيناف د رئيس صاحب لاسليک نه غواړي.

البته په ولسواليو کې ترتيب شوو قبالو باندې د اړونده ولايت د استيناف محکمې د رئيس صاحب امضاء ضروري ده د استيناف رئيس صاحب دې تر پوره دقت وروسته په ولسوالۍ کې ترتيب شوې قباله امضاء کوي او د امضاء کولو لپاره دې د استيناف رئيس صاحب د خپلو ولسواليو سره داسې مصؤنه طريقه جوړه کړي چې د جعل، تزوير او ځنډ څخه مخنيوی په کې شوی وي.))

بناءً د سترې محکمې د عالي شورا پورته تحرير شوی هدايت ددې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط رياستونو، تميزونو، دېوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شو ترڅو د هغه مطابق اصولي کړنې ترسره شي.

**په نبوي دوره کې د قضاء لپاره د ځای او وخت تشخيص:**

په نبوي دوره کې د قضاء لپاره ټاکلی ځای مشخص نه و او عموماً دعوه کوونکي نبي کريم (صلی الله عليه وسلم) ته مسجد ته راتلل او همدارنګه لېږل شويو استازو به هم خپلو موجود او کاري ځايونو کې پرېکړې کولې.

دغه راز په هغه زمانه کې د قضاء لپاره ټاکلی وخت هم نه و، ځکه عدالت په وخت پورې مقيد نه دی، ځکه کله چې ظلم او تېری په هر وخت کې پېښ شي، په چټک او ممکن وخت کې يې ليرې کول لازم دي.

او د هغه رواياتو څخه چې د ځای په نه مشخصولو دلالت کوي، د ابو هريره او زيد بن خالد الجهني روايت دی، چې هغه کې داسې راغلي:«اې ګرانه انسه! سهار مهال د هغه ښځې لوري ته ولاړ شه، که چيرې يې اعتراف وکړ، نو رجم يې کړه». نو هغه وايي: چې سهار دی ورغلی او هغې ښځې اعتراف هم وکړ، نو رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د رجم کولو امر ورته وکړ او انس (رضي الله عنه) هم هغه ښځه رجم کړه. ( رواه البخاري رقم ۱۶۹۷)

اخذليک: تتمة النظام، ۴۰ صفحه، تأليف: قاضي القضات شيخ عبدالحکيم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحيم راشد

## هلمند ولایت کې څلورو متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د ۱۴۴۵ هـ ق کال د شعبان المعظم میاشتې په ۲۵مه نېټه د هلمند ولایت د مرافعه محکمې اړوند ښاري ابتدائیه محکمې د جزا دېوان لخوا د لواطت، غلا او نامشروع اړیکو په تور څلورو متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه.

د یادو متهمینو په تړاو د اړوند محکمې فیصلې تر قطعي کېدو وروسته د جنوب غرب زون د تمیز عالي ریاست او د ستري محکمې د قضائي معاونیت لخوا هم تایید شوې وي.

متهمینو ته د تعزیري سزا د حکم د تطبیق پر مهال د هلمند د مرافعه محکمې رئیس، د ښاري ابتدائیه محکمې رئیس، د محاکمو قضائي او اداري غړو او عامو خلکو ګډون درلود.

د یادونې وړ ده چې متهمینو هم د محکمې پر حکم قناعت درلود.

## د کابل ښار د ابتدائیه محکمې څلورم زون لخوا درې متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

په ۲۳/ ۸/ ۱۴۴۵ هـ ق نېټه د کابل ښار د ابتدائیه محکمې څلورم زون د جزا دېوان الف جز لخوا درې متهمینو ته د لواطت په تور ۳۵-۳۵ درې تعزیري سزا ورکړل شوه.

د یادو متهمینو دوسیې د کابل ښاري ابتدائیه محکمې د څلورم زون د جزا دېوان الف جز لخوا تر نهایي کېدو وروسته د ستري محکمې د عالي مقام لخوا تائید شوې وې.

د متهمینو له ډلې دوه کسان پر ۳۵-۳۵ درو تعزیري سزا او ۱۵ میاشتې تنفیذي بند او یو متهم پر ۳۵ درو تعزیري سزا او یو نیم کال تنفیذي بند محکوم شوی و.

## د لوګر د مرافعه محکمې د نوي رئیس د معرفت غونډه وشوه

په ۲۰/ شعبان المعظم/ ۱۴۴۵ هـ ق نېټه د لوګر ولایت د مرافعه محکمې د نوي رئیس محترم مولوي شمس الله (عزیزي) د معرفت غونډه، د ښاري محکمې د رئیس محترم مفتي امان الله منقاد (حقاني)، د جزا دېوان د رئیس مولوي فضل الرحیم (عابد)، د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت د رئیس مولوي عبدالرحمن جان (هدایت)، د دېوانونو د رئیسانو او نورو مسؤولینو په ګډون د یادې محکمې په تالار کې جوړه شوه.

یاده غونډه د قرآنکریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه؛ ورپسې د ښاري محکمې رئیس محترم مفتي امان الله (منقاد حقاني) خبرې وکړې وویل، قضائیه قوه د نظام د ملا د تیر حیثیت لري، د شرعي احکامو په پلي کولو کې مهم رول لري، محترم قضات باید خپل صورت او سیرت د شریعت مطابق وګرځوي او د اسلامي امارت فرمانونو او متحدالمآلونو ته پابند واوسي، د اسلامي حکمونو د تطبیق په باب باید نه ستړي کېدونکې هلې ځلې وکړي.

د ښاري محکمې رئیس د مخکني رئیس محترم مفتي حفیظ الله (محمدي) د خدمت ستاینه وکړه او نوي رئیس محترم مولوي شمس الله لپاره یې د ښه خدمت دعا وکړه.

د غونډې په دوام د ښاري محکمې د مدني دېوان رئیس مولوي جان محمد (رائد) ګډونوالو ته د مرافعه محکمې نوی رئیس ور معرفي کړ او له الله (جل جلاله) څخه یې ورته د توفیق غوښتنه وکړه.

د غونډې په وروستیو کې د مرافعه محکمې رئیس مولوي شمس الله خبرې وکړې، د محکمې له مسؤولینو څخه یې مننه وکړه او د ټولو دېوانونو رئیسانو ته یې په خپل منځ کې د همکارۍ او لا ښې همغږۍ سپارښتنه وکړه.

غونډه د مولوي فضل الرحیم (عابد) لخوا په دعاء پای ته ورسېده.

## رئیس عمومی محکمۀ مرافعۀ هرات با رئیس امر بالمعروف و نهی عن المنکر و معاون شورای علماء آن ولایت دیدار نمود

روز دوشنبه مؤرخ ۲۲/شعبان المعظم/۱۴۴۵هـ ق محترم مولوی عبدالله (قادری) رئیس عمومی محکمۀ مرافعۀ ولایت هرات در دفتر کارش همراه با شیخ عزیز الرحمن رئیس امر بالعمروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات و محترم شیخ عبدالحمید معاون شورای علماء هرات ملاقات نمود.

در ابتداء این دیدار رئیس عمومی محاکم ولایت هرات مهمانان را به جلسه خوش آمدید گفت، بعداً پیرامون موضوعات مختلف مرتبط به محاکم و اداره امر بالعمروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات صحبت گردید، بر لزوم هماهنگی بیشتر بین ادارات و ارگانهای امارتی تأکید به عمل آمد.

در ادامه این دیدار شیخ عزیز الرحمن رئیس اداره امر بالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات نیز بر ارتباط، هماهنگی بهتر بین ارگانهای امارتی بخصوص محاکم و اداره امر بالعمروف و نهی عن المنکر مهم و ارزنده دانست.

در اخیر این دیدار رئیس محکمۀ مرافعه برگزاری این چنین جلسات را بخاطر بهبود روابط بین ارگانها امارتی مهم پنداشته و جلسه با آرزوی خوشبختی و فلاح ملت مسلمان افغانستان خاتمه یافت.

## جلسۀ اداری و قضائی محکمۀ مرافعۀ جوزجان دایر گردید

روز شنبه مؤرخ ۲۲ /۸ /۱۴۴۵هـ ق جلسۀ اداری و قضائی تحت ریاست محترم مولوی عبدالغنی (سعید) رئیس عمومی محکمۀ مرافعۀ ولایت جوزجان در مقر ریاست محکمۀ مرافعه با حضورداشت، مولوی عبدالولی (نقشبندی) رئیس دیوان جزا، مولوی عبدالحلیم (حلیمی) رئیس دیوان امنیت عامه، مفتی صاحبان، محررین، مدیریت های قومانداني امنیه جوزجان، مولوی غلام رسول (احمدی) مدیر عمومی تحقیقات جنائی، ملا عبدالرؤف (رفعت) مدیر مبارزه علیه تروریزم، مولوی احمد (احمدی) مدیر مواد مخدر و ملا عبدالباری (مخلص) آمر محبس جوزجان دایر گردید.

این جلسه با تلاوت چند آیات از کلام الله آغاز گردید؛ سپس رئیس عمومی محکمۀ مرافعه ولایت جوزجان گفت، به هدف تقویت اداره های جنائی و جزائی، جلسۀ هماهنگی برگزار شده، در ادامه با مسؤولین این ارگان ها یک سلسله هدایات و ارشادات را که یادداشت نموده بود، قرار ذیل در جلسه بیان نمودند:

۱ـ در جلسۀ متذکره رئیس محکمۀ مرافعه به همه مسؤولین بیان نمود، که دروازه های خود را به روی مردم خود باز نموده، آواز مظلوم را سمع نمائید، وظیفه های خود را مسؤولیت و عبادت بگیرید، بالخصوص با مراجعین محترم سلوک نیک و اخلاق خوب نمائید.

۲ـ هر ارگان که مجرم را دست گیر کند، مثلاً قوماندانی امنیه، تحقیقات جنایی، مدیریت مواد مخدر، مدیریت مبارزه علیه تروروزم یا دیگر ارگان ها که مجرم را دست گیر کند، باید از مجرم مکمل تحقیق کرده شود، بعد دوسیه شان بطریق اصول ترتیب داده به محکمه معرفی شود.

۳ـ مجرم اصلی باید گرفته شود بعد طبق قوانین ومقررات اجراآت شود.

۴ـ مدیرت جنائی، مواد مخدر، صورت دعوه طبق اصول تکمیل کند، بعداً دوسیه همرای تمام اجناس به محکمه تحویل نماید.

۵ـ بعضی اوقات که اتهامات زیاد نوشته میشود طبق اتهامات تحقیق و ثبوت نوشته شود، یعنی هر اتهام که علیه مجرم نوشته میشود، باید سرش ثبوت داشته باشید، بدون سند قابل اعتبار نیست.

۶ـ وقتیکه مجرم یا متهم گرفتار شود، در تلفن اش شماره ها باشد، باید با شماره هایش غرض گرفته نشود و از زنگ زدن به شماره عام مردم جلو گیری شود.

۷ـ فلم یا ویدئو که در داخل تلفن مجرم یا متهم پیدا شود باید افشا نشود.

در اخیر این جلسه رئیس محکمه مرافعه ولایت جوزجان به حاضرین در جلسه فرمود، در تصامیم خویش دقت نموده تا عدالت را بوجه احسن انجام نمایند.

جلسه با دعائیه خیر و فلاح مردم ولایت جوزجان خاتمه یافت.

## رئیس محکمۀ مرافعۀ دایکندی با وکلای مدافع آن ولایت دیدار نمود

روز چهارشنبه مؤرخ ۲۴ /۸ /۱۴۴۵هـ ق محترم الحاج مولوی عبدالکریم (محمدی) رئیس عمومی محکمه مرافعه ولایت دایکندی با وکلای مدافع این ولایت دیدار نمود.

این جلسه در ابتداء بنام خداوند عادل و داد گر توسط رئیس مرافعه آغاز گردید، بعداً به وکلای مدافع ولایت دایکندی که در جلسه حضور یافته بودند خوش آمدید گفت، رئیس محکمۀ مرافعه در روشنایی حکم شماره (۲۱۵ ج ۱ مؤرخ ۴ /۷ /۱۴۴۳ هـ ق) عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) و هدایت کتبی ریاست عالی تمیز زون جنوب غرب ستره محکمه پیرامون جواز فعالیت دارالوکاله ها اظهار سخن نمود فرمود: در مورد فعالیت دارالوکاله ها حکم عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) و مسؤولین محترم مقام عالی ستره محکمه چنین میباشد، که هیچ شخصی نمی‌تواند بدون جواز وکالت، دارالوکاله ایجاد کند از این طریق صورت الدعوی، دفع الدعوی و اعتراض تحریر و ترتیب نماید، اگر شخصی چنین کاری نموده باشد، برایش مدت یک ماه از تاریخ جلسه وقت داده می‌شود، تا جواز دارالوکاله اش را از وزارت محترم عدلیه اخذ نماید، در غیر آن حق شکایت نداشته و اجازه فعالیت و ترتیب صورت دعوی، دفع الدعوی، اعتراض و دفع اعتراض به آن داده نمی‌شود؛ اگر بعد از سپری شدن میعاد معینه، دارالوکاله های بدون جواز فعال باشند دارالوکاله‌اش مسدود و اصولا با وی برخورد می‌شود.

در این جلسه نظریات و پیشنهادات وکلاء در جلسه مطرح شد، در هر مورد رهنمایی و هدایت لازم برای شان داده شد، جواز دارالوکاله های وکلاء ولایت دایکندی ملاحظه گردید و هیچ نوع مشکلاتی در جوازها موجود نبود.

## د کونړ ولایت د مرافعه محکمې اداري غونډه وشوه

په ۱۸ /۸ /۱۴۴۵ هـ ق نېټه د کونړ ولایت د مرافعه محکمې د غونډو په تالار کې د مرافعه محکمې د محترم رئیس الحاج مولوي عزیز الرحمن (حقاني) په مشرۍ د یادې محکمې له اړوند قضاتو سره اداري غونډه وشوه.

غونډه د قران عظیم الشان د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه؛ ورپسې د مرافعه محکمې محترم رئیس د غونډې ګډونوالو ته ښه راغلاست ووایه، د غونډې په ارزښت یې تفصیلي خبرې وکړې وویل، اسلامي نظام کې محاکم د عدالت تأمینونکي بلل کېږي، د دې نظام موخه د ظلم مخنیوی او د مظلوم څخه دفاع ده.

همداراز د غونډې په اجنډا کې په شاملو لاندې موضوعاتو تفصیلي خبرې وشوې:

۱ ـ له مراجعینو سره احسن سلوک.

۲ـ په حاضرۍ پابندي.

۳ـ دوسیو باندې په خپل وخت او غور سره اجراآت کول.

۴ ـ احکام شوې عریضې باید مستردې نشي، البته که ستونزه موجوده وي ریاست سره باید تماس ونیول شي.

۵ ـ راپورونه باید له قلم خوردګۍ پرته په خپل وخت او په ځانګړې شوي فورم باید راولیږل شي.

۵ ـ کومې دوسیې چې د حکم د صدور څخه وروسته اړوند دېوان ته د مرافعوي غور لپاره لېږل کېږي، باید د مرافعه طلبۍ عریضه پکې موجوده وي، اوراق یې ترتیب، شماره او په مهر باید نښاني شوې وي.

د غونډې په دوام د اړونده اداراتو مسؤولینو هم خپلې ستونزې او سپارښتنې له مرافعه محکمې سره شریکې کړې او د کونړ ولایت د ښاري محکمې رئیس مولوي محمد ایوب (قلم) د غونډې ګډونوالو ته د اجراآتو په تړاو هر اړخیز معلومات وړاندې کړل.

## د میدان وردګ ولایت محاکمو په یوه میاشت کې د (۱۲۵) دوسیو پر حل او فصل سربېره (۹۱) وثیقې هم اجراکړې دي

د میدان وردګ ولایت مرافعه محکمې، ښاري ابتدائیه محکمې او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې له ( ۱/ ۸/ ۱۴۴۵هـ ق نېټې څخه تر ۲۹/ ۸/ ۱۴۴۵ هـ ق) نېټې پورې د (۱۲۵) دوسیو پر حل او فصل سربېره، (۹۱) وثیقې هم اجراکړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په تېره یوه میاشت کې (۸۱) حقوقي دوسیې محاکمو ته راجع شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۲۲) دوسیې مکتوبې مستردې شوې، د (۵۳) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۵) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په تېره یوه میاشت کې (۳۵) جزائي دوسیې محاکمو ته راجع شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۳) دوسیې مکتوبې مستردې شوې، د (۵) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۲۷) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د میدان وردګ ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۹۱) بېلا بېلې وثیقې هم اجراکړې دي.

## محاکم جوزجان طی دو هفته علاوه بر حل و فصل (۱۳۶) دوسیه، به تعداد (۱۴۶) وثایق را نیز اجراکرده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت جوزجان، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری، محکمهٔ نظامی، محکمهٔ اختصاصی و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱۶/ ۸/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۲۸/ ۸/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش هـای حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۳۶) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۳) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۵۷) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۳) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۶۴) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۱) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت جوزجان به تعداد (۱۴۶) وثایق نیز اجرا گردیده است.

## محاکم غور طی دو هفته علاوه بر حل و فصل (۱۵۴) دوسیه، به تعداد (۱۴۰) وثایق را نیز اجراکرده است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت غور، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری، محکمهٔ نظامی زون غور و محاکم ابتدائیه ولسوالی ها از تاریخ ( ۱۶/ ۸/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۱/ ۹/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۶۰) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۷) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۷۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده،(۳۰) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۴۳) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله(۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۲۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۰) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت غور به تعداد (۱۴۰) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## محاکم بغلان طی یک ماه علاوه بر حل و فصل (۷۴۵) دوسیه، به تعداد (۳۰۵) وثایق نیز اجراکرده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت بغلان، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱/ ۸/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۲۸/ ۸/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۵۵۰) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، درحالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۳۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۴۵۰) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۸۹) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۱۹۸) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، درحالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۱۱۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۹) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بغلان به تعداد (۳۰۵) وثایق مختلف النوع نیز اجراگردیده است.

## محاکم کاپیسا طی دو هفته علاوه بر حل و فصل (۹۳) دوسیه، به تعداد (۱۲۱) وثایق را نیز اجراکرده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت کاپیسا، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱۰/ ۸/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۲۵/ ۸/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۷۴) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۳۰) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۲) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۳۴) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۱۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۷) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت کاپیسا به تعداد (۱۲۱) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## محاکم فاریاب طی دو هفته علاوه بر حل و فصل (۲۶۵) دوسیه، به تعداد (۲۵۵) وثایق را نیز اجراکرده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت فاریاب، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱۵/ ۸/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۲۸/ ۸/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۶۰) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۴۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۴) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۳۵) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۷) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۱۱۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۵۵) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت فاریاب به تعداد (۲۵۵) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## محاکم لغمان طی دو هفته علاوه بر حل و فصل (۶۸) دوسیه، به تعداد (۱۳۰) وثایق نیز اجراکرده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت لغمان، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱۵/ ۸/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۲۸/ ۸/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۳۷) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۷) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۲۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۸) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۸) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۱۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۶) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت لغمان به تعداد (۱۳۰) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

سرپرست مسئول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اډیتور : جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

# د کابل ابتدائیه محکمې اړوند څلور زونونو په یوه میاشت او پنځلس ورځو کې (۲۷۱۴) دوسیې حل او فصل کړې دي

د کابل ابتدائیه محکمې اړوند څلورو زونونو په یوه میاشت او پنځلس ورځو کې له (۱/ ۷/ ۱۴۴۵هـ ق څخه تر ۱۵/ ۸/ ۱۴۴۵ هـ ق) نېټې په جزائي، حقوقي او تجارتي برخو کې (۲۷۱۴) دوسیې حل او فصل کړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په جزائي برخه کې:**

د کابل ښار د ابتدائیه محکمې اړوند څلورو زونونو ته په یوه میاشت او پنځلس ورځو کې (۹۰۰) جزائي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۵۰۶) دوسیې فیصله شوې، د (۲۴۱) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۱۶) دوسیې مکتوبي مسترد شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په حقوقي برخه کې:**

د کابل ښار د ابتدائیه محکمې اړوند څلورو زونونو ته یوه میاشت او پنځلس ورځو کې (۵۷۱) حقوقي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۲۰۳) دوسیې فیصله شوې، د (۵۵۷) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۲۶) دوسیې مکتوبي مسترد شوي او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په تجارتي برخه کې:**

د کابل ښار د ابتدائیه محکمې اړوند څلورو زونونو ته په یوه میاشت او پنځلس ورځو کې (۶۰۵) تجارتي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وي.

له دې جملې څخه (۱۶۸) دوسیې فیصله شوې، د (۷۲۰) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۷۷) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

# د فراه محاکمو په یوه میاشت کې د (۴۱۶) دوسیو پر حل او فصل سربېره، (۷۰۹) وثیقې هم اجرا کړې دي

د فراه ولایت مرافعه محکمې، وثایقو، ښاري ابتدائیه محکمې او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې له ( ۸/ ۷/ ۱۴۴۵هـ ق نېټې څخه تر ۶/ ۸/ ۱۴۴۵ هـ ق) نېټې د (۴۱۶) دوسیو پر حل او فصل سربېره، (۷۰۹) وثیقې هم اجرا کړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

**په حقوقي برخه کې:**

د فراه ولایت محاکمو ته په یوه میاشت کې (۱۲۳) حقوقي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۷) دوسیې مکتوبي مستردې شوې، د (۴۳) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۵۳) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د فراه ولایت محاکمو ته په یوه میاشت کې (۳۳۶) جزائي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۱۷) دوسیې مکتوبي مستردې شوې، د (۴۴) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۲۵۲) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د فراه ولایت محاکمو په یو میاشت کې (۷۰۹) بېلا، بېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

# محاکم کندز طی یک ماه علاوه بر حل و فصل (۸۳۵) دوسیه، به تعداد (۶۸۶) وثایق نیز اجرا کرده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت کندز، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱/ ۷/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۳۰/ ۷/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۵۱۵) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله به تعداد (۱۲۹) دوسیه فیصله شده، در رابطه به (۴۰۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۹) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه تحت کار می باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۲۳۳) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله به تعداد (۱۲۹) دوسیه فیصله شده، در رابطه به (۱۱۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه تحت کار می باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت کندز به تعداد (۶۸۶) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

# د سترې محکمې متحدالمآلونه

### د متحدالمآل ګڼه: ۳۹
### نېټه: ۷/ ۹/ ۱۴۴۵ هـ ق

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله و برکاته

وبعد: د افغانستان اسلامي امارت د استخباراتو لوی ریاست مکتوب نمبر (۴۲۳۷) مؤرخ ۱۴۴۵/۸/۲۳ هـ ق د سترې محکمې دارالانشاء عمومي ریاست ته په تاریخ ۱۴۴۵/۸/۲۳ هـ ق رارسېدلی چې متن یې په لاندې ډول دی:

د مشرتابه محترم عالي مقام لخوا چې د استخباراتو لوی ریاست ته کوم قانون منظور شوی، په هغه کې د استخباراتو لوی ریاست ته په ملکي ارګانو کې د یو لړ اجراآتو واک ورکول شوی، چې په نتیجه کې یې مورږ اکثر اوقات په حقوق الله کې له ملکي ارګانو څخه بندیان نیسو او محاکمو ته یې سپارو، په دې جریان کې له یوې ستونزې سره مخ یو هغه داسې چې کله مورږ ملکي محاکمو ته بندي سپارو له مورږ څخه یې نه قبلوي او علت دا وایي: چې مورږ ته د سترې محکمې لخوا ویل شوي چې یواځې له تحقیقات جنائي او حقوقو ریاستونو څخه بندیان قبلوئ. دا چې په حقوق الله کې استخبارات هم د مدعي په حیث موضوع محکمې ته وړاندې کولای شي، نو له تاسو څخه په درنښت هیله کوو چې اړوند ملکي محاکمو ته داسې حکم وکړئ چې زمورږ له ریاستونو څخه د دوی مربوط موضوعات قبول کړي ترڅو د بندیانو موضوعات له ځنډ سره مخ نشي.

پورته ذکر شوې موضوع د سترې محکمې محترم عالي مقام ته وړاندې شوه، په اړه یې د سترې محکمې محترم عالي مقام د حکم مؤرخ ۱۴۴۵/۹/۶هـ ق په اساس داسې هدایت وکړ:

((کله چې په حقوق الله موضوعاتو کې د استخباراتو هغه بندیان چې د نظامي محکمې مربوط نه وي او د استخباراتو لخوا موضوع مربوطه ملکي محکمې ته واستول شي، مربوطه ملکي ابتدائیه محاکم دې یاد موضوعات د محاکمو د لائحې (۱۰۰) مادې: (ابتدائیه محاکم په مستقیم او غیر مستقیم ډول موضوعات اخستلی شي.) مطابق واخلي او تر شرعي بررسۍ لاندې دې ونیسي.

د سترې محکمې دارالانشاء عمومي ریاست دې یاده موضوع په متحدالمآل شکل ټولو محکمو ته واستوي.))

بناءً د سترې محکمې د عالي شورا پورته تحریر شوی هدایت ددې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط ریاستونو، تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شو ترڅو د هغه مطابق اصولي کړنې ترسره شي.

### د متحدالمآل ګڼه: ۴۰
### نېټه: ۸/ ۹/ ۱۴۴۵ هـ ق

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله و برکاته

وبعد: د ۱۴۴۵هـ ق کال د کوچني اختر په مناسبت د بندیانو د هیئتې طرزالعمل د ترتیب په موخه د سترې محکمې د قضائي تفتیش عمومي ریاست د محترم رئیس صاحب په مشرۍ د یاد ریاست د معاون صاحب، د زندانونو چارو د سمون اداري نماینده، د داخله وزارت د جرائمو د کشف لوی ریاست نماینده، د کابل ولایت د جنائي تحقیقاتو نماینده، د تعقیب او نظارت لوی ریاست نماینده او د استخباراتو د لوی ریاست د نماینده په ګډون ټاکل شوي هیئت لخوا د کوچني اختر په مناسبت د بندیانو د هیئتې لپاره طرزالعمل ترتیب شوی وو چې د سترې محکمې د مقام د دفتر محترم ریاست د مکتوب نمبر (۲۲۴) مؤرخ ۱۴۴۵/۸/۱۷هـ ق په توسط د مشرتابه محترم عالي مقام ته وړاندې شوی و او د مشرتابه محترم عالي مقام د حکم نمبر (۴۴۱۴) مؤرخ ۱۴۴۵/۸/۲۸هـ ق مصادف ۱۴۰۲/۱۲/۲۰هـ ش په توسط یاد طرزالعمل د یو لړ تغیراتو سره په پنځه ویشت مادو کې منظور شوی دی:

پورته ذکر شوی طرزالعمل او په اړه یې د مشرتابه محترم عالي مقام حکم نمبر (۴۴۱۴) مؤرخ ۱۴۴۵/۸/۲۸هـ ق مصادف ۱۴۰۲/۱۲/۲۰هـ ش د سترې محکمې محترم عالي مقام ته وړاندې شو په اړه یې د سترې محکمې محترم عالي مقام داسې هدایت وکړ:

((د ۱۴۴۵هـ ق کال د کوچني اختر په مناسبت د بندیانو د هیئتې طرزالعمل چې د مشرتابه محترم عالي مقام حکم نمبر (۴۴۱۴) مؤرخ ۱۴۴۵/۸/۲۸هـ ق مصادف ۱۴۰۲/۱۲/۲۰هـ ش په اساس تائید شوی دی، په متحدالمآل شکل دې ټولو محکمو ته واستول شي ترڅو د هغه مطابق ټاکل شوي هیئتونه هیئتي وکړي او خپل ګزارشونه دې د توحید په موخه د سترې محکمې د قضائي تفتیش عمومي ریاست ته راواستوي.))

بناءً د سترې محکمې د محترم عالي مقام پورته تحریر شوی هدایت ددې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط ریاستونو، تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شو ترڅو د هغه مطابق هیئتي وشي او د هیئتې ګزارشونه دې په واټساپ نمبر (۰۷۰۵۷۴۲۱۸۵) د سترې محکمې د قضائي تفتیش عمومي ریاست ته راواستول شي.

میزان

د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته : ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

publications.sc١٤٤٣@gmail.com
www.supremecourt.gov.af

د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳